**يادداشت :**
چنانکه در مورد چندين مقالۀ ديگر اين رشته نيز نوشتيم، موفقگيری پورتال "افغانستان آزاد ـ آزاد افغانستان" را در قبال "تغيير" رئيس جمهور در اضلاع متحدۀ امريکا، اعلاميه پورتال که به همين مناسبت نشر گرديده؛ روشن ميسازد. نشر نظرات متعدد در زمينۀ اين "تغيير"، احترام ما را به امر آزادی عقيده و بيان می رساند.

پورتال AA-AA


ليکوال : اريک مارګوليس
منبع : "تورنتو سن" ورځپاڼه
ژباړن : نثار احمد صمد


# هغه پراخ لیست چې اوباما يې بايد عملی کړی

## د امریکا تاکل سوئ ولسمشر به مجبور وي چې
## د نړی خورا ستونځمني برخې آرامې کړی

نړی د بارک اوباما د تاريخي بري په وياړ خوشالي کوی . صرف په اسراييلو ، جورجيا او فليين کی د مک کېن پر ځيونکي ماتی باندی وير وښودل سو .
خو د اوباما دا خوره موده به لنډه وی . ځکه ده ته يو داسی هيواد ور پاته دئ چې د مفليسی او ديواليتوب په ختو کی بند دئ چې علت يې د بې پروا پوروړو عياشي او له جنايته ډک تقلب دئ .
د اوباما بري او په ولسی جرګه او سنا کی د ديموکراتانو اکثريت کېدو ده ته د امريکا د خورا نادره ييزو بهرنيو ستونزو د اواری لپاره يو بې ساریٔ چانس ور کړی دئ .
لومړنی ګام يې دا دئ چې د امريکا بهرنی تګلاره غير پوځی کړی . د پنتاګون څخه دې د بهرنی تګلاری جوړښت واخلی او هغه دې بيرته خارجه وزارت ته ورکړی . ورپسې کارونه يې دا دي :

### روسيه
کريملين د اوباما برياليتوب د جورجيا او اوکراين په سر د خبر داري او هم په خپل کالينن ګراډ کی د توغنديو د مستقرولو په پلانونو سره بدرګه کړ تر څو په پولينډ او چيک جمهوريت کی د بوش د اداري د توغنديو ضد سيستم سره مقابله وکړای سی . د امريکا د ملی امنيت تر ټولو مهم ګواښ اسامه بن لادن يا عراق نه بلکی د روسيې سره اړيکي دي چې په زرګونو هغسی اتومی سرګلولي لری چې هدف يې امريکا ده . بوش او چينی پر خپله لاره ولاړل چې روسيه به يې د خپلو توغنديو ضد احمقانه پلان او هم پر جنوبی اوسيشيا باندی د جورجيا په حمله سره ضديت ته رابلله او هغه به يې لمسوله ، او دا هر څه يې د جان مک کېن انتخابی چانسونو ته پرې ښنی وو.
نو اوباما بايد د توغنديو ضد دغه عبث پروګرام پريږدی او جورجيا ته ووايی چې هر څه حل کړی – او د اتومی بې وسلي کولو لپاره د ولسمشر آيزنهاور غوښتنه يو ځل بيا را مخته کړی .

اوکراین یو بل بحران دئ . واشنګټن او ماسکو باید پر یو داسی تړون باندی کار وکړی چی د اوکراین دایمی استقلال خوندی کړی خو د دې څخه دې ډډه وکړی چی هغه د ناټو یو داسی نیزه وګرځوی چی نېغه به یې د روسیې زړه ته نیولې وی . ناټو دې د روسیې د پولو څخه لیری کړی .

## چین

د یو نوي نړیوال طاقت په توګه د چین د را څرګندېدو سنبالښت د امریکا د بهرنی تګلاری یوه بله مهمه مسأله ده . واشنګټن باید د بیجنګ سره د ژوند کولو یوه طریقه رامنځته کړی او د چین په وړاندی د جمهوریت غوښتونکو د آینده جنګ خوبونه ایسته وغورځوی .

## عراق

اوباما باید پر خپله هغه ژمنه بیره وکړی چی ویل یې د عراق څخه به امریکایی پوځیان راباسو . پرېږدئ چی عربی ټولنه د امنیت دا مسؤلیت واخلی . مفلس او دیوالی سوئ واشنګټن نور نه سی کولای چی د عراق د نیوني میاشتنۍ ۱۰ بلیونه ډالریزه خرڅ تادیه کړی .

## اسراییل/ فلسطین

دغه شخړه د لویدیځ ضد تشدد هغی ستری برخی ته چی د اسلامی نړئ څخه نشأت کوی ، نور سیک هم پسی ورکوی . اوباما باید خپل زور د اسراییلو د مرکز او کیڼ لاسو ګوندونو شا ته ځای پر ځای کړی چی هغوی د مځکی د سولی لپاره د یوې رښتیانی روغی جوړی ننګه کوی . یوه عادلانه سوله به د هغه څه ستره برخه چی موږ یې « تروریزم » بولو ، پای ته ورسوی .
اوباما باید همدا راز اعلان وکړی چی امریکا به په اسلامی نړی کی د دیکتاتورو واکمنانو د ملاتړ څخه تدریجاً لاس واخلی او د « تروریزم » د ودی اصلی علت هم همدا دئ ، او دغسی کار به رښتیانی دیموکراسی ښه پسی ترویج هم کړی .
په هر حال ، د منځنی ختیځ سوله د امریکا د مستقیم منځګړتوب او فشار څخه پرته احتمال نه لری . پدې کار کی ناکامی او د سیمی د مستبدو واکمنانو څخه د امریکا د ملاتړ دوام هغه څه دی چی د اسلامی نړئ سره شخړه دایمی کوی او په دې ډول به د امریکا د بهرنی تګلاری او ملی امنیت سر او بر هم ورک وی .

## افغانستان

اوباما د افغانستان د جنګ د ژورو قومی او تاریخی پیچلتیاوو په پوهېدنه کی پاتی راغلی دئ . ده لوړه کړی چی هلته به نور پوځیان ورلیږی او د پاکستان په دننه کی به حملې کوی . اوباما باید د هغو لوړو افسرانو خبره واوری چی وایی دا جنګ پوځی بریئ نه لری بلکی یوازینی چاره یې داسی خبری اتری دي چی طالبان او د هغوی ملګری به هم پکښی شامل وی . دا ضروری ده چی دا جنګ مخکی له دې چی اتومی وسلوال پاکستان ټوټه ټوټه سی ، پای ته ورسیږی .

## ایران/ شمالی کوریا

د دغو دوو ستونځمنو هېوادو سره د اوباما لخوا د مستقیمو خبرو اترو غوښتنه معقوله او د ستایلو وړ ده . دواړه په خورا مینه د امریکا لخوا د پاملرنی او خیال ساتنی په تمه دي او هیله من دي چی حمله به نه پر کیږی .

## اروپا

اروپا د اوباما په بریالیتوب سره خوښی څرګندوی او د بهترو اړیکو په تمه ده . واشنګټن باید د اروپایی اتحادیی سره د یو لاس لاندی غوندی نه بلکی د یو برابر شریک په توګه رویه وکړی . امریکا ته لازمه ده چی د اروپایی ټولنی څخه زده کړه وکړي چی په بشری حقوقو ، محیطی مسایلو ، د مصرفونکو په ساتنه ، او ترانسپورټیشن کی د امریکا څخه ډېره مخته ده .

د اوباما اداره باید ډېر ژر ګوانتانامو وتړی ، د لاتینی امریکا سره اړیکی سمی کړی او پر کیوبا باندی خپله بې شرمانه محاصره پای ته ورسوی .

خو د امریکا د خورا معقولی او بشپړ بهرنی تګلاری اومیدونه به د واشنګټن د پیاوړو خاصو ګټو د مقاومت سره مخامخ سی . ځکه هغوی د مخکی څخه لا پر اوباما او دیموکراتانو باندی خپل دروند فشار ساتلی دئ .

اوباما د بوش د وراني ورانۍ او نورو ستونزو سره مخامخ دئ . لاکن دا هم لومړی ځل دئ چی د جان ایف کنیډی
ځخه را په دې خوا د نړیوالو زړونه نن یو وار بیا د امریکا لپاره د ولولو او نیکو احساساتو ځخه ډک دي . پای ،